# آيا پوهيږئ چې رب مو څه وويل؟» هغوی وويل: الله او رسول يې ښه پوهيږي، ويې فرمايل: زما بنده ګانو پداسې حال کې سهار کړ چې ځيني له دوی څخه پر ما ايمان لرونکي او ځينې نور يې کفر کوونکي دي

له زيد بن خالد الجهني رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه فرمايلي دي: پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - مونږ ته په حديبيه کې د سهار لمونځ راکړ پداسې حال کې چې د شپې باران وريدلی و، نو کله يې چې سلام وګرځاوه، خلکو ته يې مخ کړ او ويې فرمايل: « آيا پوهيږئ چې رب مو څه وويل؟» هغوی وويل: الله او رسول يې ښه پوهيږي، ويې فرمايل: زما بنده ګانو پداسې حال کې سهار کړ چې ځيني له دوی څخه پر ما ايمان لرونکي او ځينې نور يې کفر کوونکي دي ، نو هغه چا چې وويل: د الله په فضل او رحمت پر مونږ باران وشو، نو دا پر ما ايمان لرونکی او په ستورو کفر کوونکی دی او هغه چا چې وويل: د فلاني او فلاني ستوري - د راښکاره کېدو - له امله پر مونږ باران وشو، نو دا پر ما کافر او په ستورو ايمان لرونکی دی».
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د سهار لمونځ په حديبې کې وکړ – چې مکې ته نږدې يو کلی – دی، پداسې حال کې چې په هغه شپه باران وريدلی و، نو کله يې چې سلام وګرځاوه او لمونځ يې پای ته ورساوه، خلکو ته يې مخ ورواګرځاوه او ويې ويل: آيا تاسو پوهيږئ چې ستاسو رب العزت څه ويلي؟ نو هغوی ځواب ورکړ چې: الله او رسول يې ښه پوهيږي، نو ويې فرمايل: الله جل جلاله خلکو ته څرګنده کړه چې د باران پر مهال خلک په دوو ډلو ويشل کيږي: يوه ډله هغه ده چې په الله ايمان لري او بله يې هغه ده چې په الله تعالی يې کفر کړی دی. نو هغه چا چې وويل: پر مونږ د الله په فضل او رحمت سره باران واوريد او د باران ورولو نسبت يې الله تعالی ته وکړ، نو هغه په الله؛ خالق ذات چې د کائناتو په چارو کې تصرف کوونکی دی ايمان لرونکی او په ستورو کافر دی. او هغه چا چې وويل: د فلاني او فلاني ستوري - په راښکاره کېدو - سره پر مونږ باران وشو؛ نو دی په الله تعالی کفر کوونکی او په ستورو ايمان لرونکی دی او دا کو چنی کفر دی ځکه چې د باران د ورولو نسبت يې ستوري ته وکړ؛ حال دا چې الله تعالی ستوري د باران ورولو لپاره شرعي او تقديري سبب ندی ګرځولی، او چا چې د باران ورولو او داسې نورو ځمکنيو حوادثو او د ستورو د خوځښتونو؛ راختلو او لوېدلو نسبت همدې شيانو ته وکړ، پدې باور چې - د دې - کارونو حقيقي تر سره کوونکي همدا ځيزونه دي، نو دې انسان لوی کفر کړی دی.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee